سمسور ودان

۲۰۲۶/۰۲/۱۲

# د درویش دراني د ۳ بیتونو نقد

د ستر درویش دراني ۳ داسي سلیس او د سهل ممتنع انداز بیتونه تشریحي کره کتني ته وړاندې شوي، چي اوس خلکو کي لکه متلونه او لنډۍ عام شوي دي.

د دې بزرګ شاعر د ټولي شاعري تقریباً اوړده برخه همداسي ده، چي پښتونواله، وفاداري او انسان دوستي پکې ستر موضوعات دي. د پښتنو په منځ کي یې دا ډول بیتونه تر بل هر چا ډېر منل شوي دي.

لومړی بیت کي چي شاعر وايي: (زړه مي درد کوي له زړه ورپسي ژاړم – دښمنان چي مي وي مړه ورپسي ژاړم) دا د پښتنوالي، عاطفي او ترحم اوج دی، شاعر دومره دردېدلی او درد یې داسي محسوس کړی چي ان خپل دښمن پسي هم ژاړي او ژاړي هم څنګه؟ له زړه څخه! لباسي او ظاهري اوښکي نه تویوي.

که موږ خپل فلکلور او تاریخ ته هم وګورو نو د خلکو د اعلی ظرفي لپاره وایو چي فلانی دومره کلک پښتون او غیرتي دی چي ان د دښمن زوی هم په خپل کاله رالویولی شي.

یا چي د ترحم خبره راشي، نو وایو: زړه مي دومره دردېدلی چي اوس مي د سره کاپېر په اولادې هم خوا بدیږي. شاعر همدا کیفیت له پوره موسیقیت او سلاست سره بیان کړی، چي موږ ته بیخي عام غونډې ښکاري، خو که له ځان سره یې زمزمه کړو، نو پوهېږو چي څومره آهنګین او لوړ بیت دی.

ما د یار دغه غوښتنه هم پوره کړه
نوم یې نه اخلم او نه ورپسي ژاړم

په دوهم بیت کي شاعر بیا د خپلي وفادارۍ او پښتو یادونه په داسي توګه کوي، چي خپل حق خواهش باندي پښه ږدي او یار درنوي.

بېلتانه یې د هر چا په غم شریک کړم
یار د بل درومي او زه ورپسي ژاړم

که څه هم دا ۳ واړه بیتونه په معنوي لحاظ سره ترلي دي؛ خو دریم بیت په موضوعي توګه بیخي له لومړي بیت سره یو شان دی. شاعر په مینه کي د خپل زړه سوي، عاطفي او درد بیانوي او وايي، چي تر دې کچي ځورېدلی یم چي ان د بل چا یار هم ځي، نو زه وژاړم. دا بیخي طبیعي ده، که موږ د ژړا پر مهال د یو چا اوښلنو سترګو ته وګورو نو حتمي ده چي سترګي به مو اوښکي کوي او بیا خو که یو مئین، شاعر او حساس انسان وي، نو بیخي به دردونه داسي محسوس کړي لکه په ده چي همدا اوس تیریږي.

په ټوله کي ۳ واړه بیتونه ډېر روان دي، کوم سخت ادبي صنعت پکې نشته، البته د پیغام لوړتیا یې بارزه ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ